د پاکستان توره شبکه (آیي ایس آیي) هغه ظالمه او وحشي اداره ده ، چې هر وخت د ظلمونو او وحشتونو له ټولو پولو تېر شویدي ، په خپلو ظلمونو کې نړیوال شهرت لرونکې دغه توره اداره د هېڅ قانون لحاظ نه دی ساتلی ټول قوانین یې پایمال کړیدي حتیٰ چې د انساني کرامت لحاظ یې هم نه دی ساتلی. د ظلمونو په همدې پاچاهۍ یې په خلکو وېره خپره کړېده ، او خپلې بدمعاشۍ او زورواکۍ ته یې دوام ورکړی دی.

هسې خو د دغې وحشي اداري د ظلمونو مثالونه او د ظلم طریقې بیخي ډېرې دي ، زه هغه ټول دلته ذکر کول نه غواړم ، خو په عمومي توګه د دوی هغو حربو ته اشاره کوم چې د ریښتیني مؤمنو مسلمانانو خلاف یې یعنې د دوی د دښمنانو او مجاهدینو خلاف یې استعمالوي.

آیي ایس آیي د اسلام او مسلمانانو دښمنۍ کې عیناً د مکې د مشرکینو په طرز العمل باندې روان دي ، د مکې مشرکینو د رحمة اللعالمین پیغمبر صلی الله علیه وسلم د اسلام دعوت رد کړ ، او پیغمبر علیه السلام او د هغه ملګري صحابه یې له دعوت او اسلام نه منع کول شروع کړل ، هغوی چې منع نشو نو دوی د هغوی په تعذیب کولو شروع وکړه ، خو لنډه دا چې مسلمانان یې چې په یوې حربې هم له خپلې سپیڅلې لار څخه ونه ګرزول نو د مسلمانانو د بدناملو لپاره یې هغوی پسې قسماقسم خبرې ،تهمتونه او درواغ ویل شروع کړل ، خو حق همېشه غالب وي او باطل همېشه ذلیل او ناکام وي ، مسلمانانو په اسلام ثابت شول ، صبر یې وکړ خپلو مبارزو ته یې دوام ورکړ نو الله تعالی هم په کفارو کامیاب کړل د دوی ملګري او لښکر یې ډېر کړ او خپل خصوصي نصرت یې ورسره ملګری کړ.

د پاکستان آیي ایس آیي هم د مکې د مشرکینو غوندې د مسلمانانو خلاف له عمومي دریو۳ حربو څخه کار اخلي.

۱- په اول قدم کې خو آیي ایس آیي کوشش کوي چې که په هره طریقه وي دښمن خپل دوست کړي او د ځان په فایدې یې د مسلمانانو خلاف استعمال کړي او له خپل کار (د دوی دښمني) نه یې منع کړي ، دوی په دې حربه کې خپل دښمن ته مختلف پېشکشونه کوي ، او د دښمن د کمزورۍ نه په استفادې هغوی خپلوي ، که څوک د پیسو او مال شوق کوي نو په پیسو یې اخلي که څوک د رتبې او جاه و جلال شوق لري نو دا شوق هم ورپوره کوي خو د آیي ایس آیي په امر به روان وي او د دوی لاسپوڅ او دوست به وي.

۲- که د یوه سړي ایمان کمزوری وي او د آیي ایس آیي دښمني او د هغوی خلاف جهاد او مبارزه یې د الله جل جلاله د رضا لپاره نه وي نو د دوی د لومړنۍ حربې ښکار کیږي او د آیي ایس آیي منګولو ته غورزي.

آیي ایس آیي د اسلام او مسلمانانو دښمنۍ کې عیناً د مکې د مشرکینو په طرز العمل باندې روان دي ، د مکې مشرکینو د رحمة اللعالمین پیغمبر صلی الله علیه وسلم د اسلام دعوت رد کړ ، او پیغمبر علیه السلام او د هغه ملګري صحابه یې له دعوت او اسلام نه منع کول شروع کړل

خو که یو سړی په حقیقي معناو یو ریښتینی مسلمان او مؤمن وي ، او یو نه خرڅېدونکی مجاهد وي ، نو ظاهره خبره ده چې هغه به تورې تنبې ، زندانونه او مرګ به قبول کړي خو د دوی دغه ټول پېشکشونه به رد کړي.

نو آیي ایس آیي هم بیا دغسې حقیقي مسلمانانو سره کلکه دښمني کوي د هغوی د وژلو یا زنداني کولو کوشش کوي حتی د هغوی خپلوانو او عزیزانو ته هم د د ښمن په سترګو ګوري او د خپل مطلوب کس ته د درد ورکولو په خاطر د هغه خپلوانو او عزیزانو ته هم مختلف قسمه آذیتونه او شکنجې ورکوي.

خو د الله د لارې حقیقي مؤمنانو دا هر څه په ځان قبول کړې وي او له اولې ورځې څخه یې په ځان مرګ، زندان،هجرت ، د خپلو خپلوانو مرګونه او زنداني کېدل ، د خپلو املاکو او جایدادونو تباهي په ځان قبول کړې وي.

۳- کله چې آیي ایس آیي په خپلو اولو دوو حربو کې ناکام شي یعنې مقابل دشمن یې نه خو خرڅېدونکي وي او نه له

دوی څخه ډارېدونکي وي نو آیي ایس آیي په دې باندې پوه شي چې دا خلک په یوې طریقې هم له منځه نه ځي نو بیا د مکې د مشرکینو په قدم تلونکې حربه په کار اچوي او له خپلې درېیمې حربې څخه کار اخلي او د دوی درېمه حربه دا ده چې د خپلو دښمنانو د بدنامولو کوشش کوي په هغوی مختلف قسمه تورونه او تهمتونه لګوي تر څو که د دوی دښمن هر چېرته وي خو چې ملګري یې کم وي ، آیي ایس آیي په دې درېیمې حربې کې له سرکاري ملایانو او علماؤ سوء څخه او د سرکاري تنظیمونو خلکو او له رسنیو او مطوبوعاتو څخه کار اخلي.تر څو د حقیقي مسلمانانو خلاف د عامو خلکو افکار او اذهان خراب کړي او دا رښتیني مسلمانان خلکو ته په ډېر غلط تعریف وروښایي.

نو مونږ ته پکار دي چې د آیي ایس آیي او په آیي ایس آیي د خرڅ شو کسانو په تبلیغاتو ونه غولیږو ، هر څوک چې د پاکستان د پوځ او حکومت او د آیي ایس آیي خلاف جنګیږي په رښتیني معناو مؤمنان او مجاهدین دي.

او د دوی په خلاف جنګېدونکو غازیانو ته هم په کار دي چې دوی د هیڅ شي پروا ونه کړي او د دوی خلاف جهاد او مبارزې ته دوام ورکړي.

جمهوري نظام! یعنې له اسلام سره په ټکر کې، کفري نظام: ص (٧)

شرک فی الحاکمیت دی او کفر دی نو جمهوري نظـام د سر نه تر پښو پورې یو کفري نظام دی.

پنځمه خبره د جمهوریت په خـلاف د مسـلمانانو وظیفـه : او هغه دا ده چې مسلمانان باید د دې کفري نظام د ختمولو پـه خلاف پاڅون وکړي او یو موټی شي او تـر هغـه وختـه پـورې وجنګیږي ترڅو دا تور، ړوند او د ظلم نظام د ځمکې دمخ نـه پاک کړي، ځکه په اسلام کې جنګ، جهاد او قتال د دې لپاره دی چې خلک د الله قانون ته غاړه کېږدي نه د دې لپـاره چـې خلـک صرف ایـمان راوړي او لمـونځ اودس وغیـره اسـلامي اعمال شروع کړي ځکه د اسلامي دعـوت طریقـه دا ده چـې اول به کافر ایمان ته راوبلې که ایمان یې قبول نکړ نـو بیـا بـه یې جزیې ته راوبلې چې اسلامي حکومت ته به د افرادو په سر جزیه ورکوي او اسلامي حکومت بـه یـې د سر، مـال او عـزت حفاظت کوي که جزیه یې قبوله نکړه نو بیا د جنګ نـه بغیـر بله لارنشته ځکه چې اسلامي جنګ د قانون لپاره دی او ځکـه الله تعالي فرمائي وقاتلوهم حتی لاتکـون فتنـة ویکـون الـدین کله لله (الانفال ٣٩).

وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم لایبقـی علـی ظهـرالارض بیت مدر ولاوبـر الا ادخلـه الله کلمةالاسـلام بعـز عزیـر بـذل ذلیل امایعزهم الله فیجعلهم من اهلها اویـذلهم الله فیـدینون لها فیکون الدین کله لله .

نـو ای دنـړۍ مسـلمانانو عمومًـا! او د پاکسـتان مسـلمانانو خصوصًا راپاځئ! د جهـادي تحریکونـو سره یوځـای شـئ او د دې کفري نظام په نړولو کې د مجاهدینو مرسته وکـړئ چـې سبا ته په ورځ د آخرت مو الله ته سترګې ټیټې نه وي .

وماعلینا الاالبلاغ.

د حق په مقابل کې هیڅکله د باطلو دسیسې بریا ته نه دي رسېدلي : صفحه (١٣)

تعالی په قانون کي پرېکنده حکم دی، له دې څخه دا په ډاګه کېږي چې که د کفر لښکر په ښکاره هر څومره قوي او ډېر وي خو په باطن کمزوری دی او ناکامېږي او د حق لښکر که په ښکاره هرڅومره کمزوری او کم وګړي وي خو په باطن کې قوي او بریالي دي الله جل جلاله ټول عمر حق ته بری او کامیابي ورکړې او باطل یې ناکام کړی دی.

نو! راځئ! چې د حزب الاحرار امیر مکرم مومند حفظه الله تر څنګه ودرېږو، ملاتړ یې وکړو، د ده او د ټولو مسلمانانو دا یوه غوښتنه ومنو چې د خپل منځي اختلافاتو نه تېر شو، د خپلو شخصي، تنظیمي، قومي او ژبنیزو ګټو پر ځای د اسلام او اسلامي امت ګټو ته اولیت ورکړو، موږ به هغه وخت د موجوده ذلت له ګردابه راوځو چې کله د اسلام د حکم سره سم په خپلو کې سره متحد او د کفارو پر وړاندې یو صف کې وجنګیږو یقیناً دا لویه قرباني ده او نن ورځ یې تر بل هر وخت ضرورت او اړتیا ډېره ده.

د ټول اسلامي امت د وحدت او نړیوال اسلامي نظام د قیام په هیله.

د پـاکسـتان سـرکاري مـلایان! د اسـلام په نـوم د اسـلام آبـاد په خـدمت کـې

لیکنه: گورویک غازي

دا یو ښکاره حقیقت دی چې پاکستان د هغه وخت د علماؤ کرامو د بې سارو قربانیو په نتیجه کې منځته راغی، د دې لپاره چې مسلمانان یو مستقل قوت شي، مسلمانان په وحدت شي، اسلام او نوامیس یې خوندي شي،د ظالم له ظلمه خوندي شي، او د خپلو ټولو حقوقو په تر لاسه کولو سره خپلواک او د یوه آزاد اسلامي نظام د چتر لاندې ژوند تېر کړي ! علماؤ قرباني ورکړه، جهاد یې وکړ او د مسلمانانو له هند څخه په آزادۍ کې یې نه ستړېدونکې هلې ځلې وکړې، زندانونه یې قبول کړل، د توپونو مخې ته ودرېدل، ټپونه او مرگونه یې قبول کړل،او بالآخره د دوی د دغه سپېڅلي ارمان لپاره سپېڅلي جهاد رنگ راوړ، له هند څخه د پاکستان په نوم مسلمانان بېل شول.

خو د کوم مرام لپاره چې علماؤ قرباني ورکړې وه، د کوم اسلامي پاکستان خوبونه چې لیدل شوي وو، هغسې ونشو، د پاکستان واگې هم هغو خلکو لاسو کې ونېولې چې دِل او دماغ یې ټول د انگرېز وو، او انگرېزانو وکولی شول، چې د هند غوندې په پاکستان هم خپل غلامان او خپل انگرېزي قانون او نظام مسلط کړي، او همداسې وشول د علماؤ په قربانیو یې اوبه واړولې او پاکستان هم د انگرېزانو مستعمره او د برېټیش اسټېبلیشمنټ یوه کالوني شوه. او تر ننه د پاکستان حکومتي نظام په کُلي ډول د انگرېز تر استعمار لاندې دی.

قانون او حکومتي نظام د انگرېز په خدمت کې، پوځ د انگرېز په خدمت کې ، چارواکي او سیاسیون د انگرېز په خدمت کې.

دغه انگرېزي پیداوار وکولی شول چې د خلکو او ساده لوحو مسلمانانو د غولولو لپاره د علماؤ او ملایانو په نوم هغه گیروره طبقه منځته راوړي چې شکل او قیافه خو به یې د انگرېز او د پوځ سره توپیر کوي خو د همدغه ښایسته قیافې او د مسلمانۍ تر نقاب لاندې به کارونه او خدمتونه ټول همدغه غیرِ شرعي جمهوري انگرېزي نظام ته کوي.

بلې د پاکستان د جمهوري نظام سرکاري ملایان(علماؤسوء) یادوم ، چې د اسلام او د عالم او د ښایسته قوارې او قیافې نه په استفادې سره یې همېشه خلک غولولي، خلک یې گمراه کړي د اسلام او قرآن په تحریف کولو سره یې د اسلام په نوم اسلام آباد ته خدمتونه کړي دي.

همدغه علماؤ سوء دي چې د یوه غیرِ شرعي جمهوري کفري نظام برخه شول، نور خلک یې هم دغه کفري نظام ته راوبلل، او د همدغه ناروا نظام د جواز لپاره یې قرآن او احادیث تحریف کړل.

همدغه علماؤ سوء دي چې جمهوریت ته یې نه صرف جواز ورکړ بلکې د لا فضیلت په ورکولو سره یې د عبادت نوم ورکړ، د ووټ د ورکولو لپاره یې د اودس کولو فتوا هم ورکړه، او په دې شکل یې دین تحریف او خلک گمراه کړل.

همدغه علماؤ سوء دي چې د قرآني احکامو او نبوي احادیثو تطبیق د منطقې په توپیر بدلوي دوی قرآني احکام په ټولو منطقو او ټولو اشخاصو یو قسم نه تطبیقوي .

دوی د قرآني احکامو تحریف کوي په یوه ځای کې یې یو رنگ تطبیق کوي او په بل ځای کې یې بیا په بل رنگ ... دوی په پاکستان کې له مېشتو کفارو او امریکایانو سره جهاد روا نه بولي مگر په افغانستان کې یې بیا روا بولي.

دوی د پاکستاني جمهوري نظام سره جهاد روا نه بولي مگر د افغانستان جمهوري نظام سره جهاد روا بولي...

همدغه علماؤ سوء دي چې کله امریکایانو د پاکستان پوځي اډې د افغانستان د مسلمانانو خلاف استعمالولې نو د دوی خولې گنډل شوې وې.

همدغه علماؤ سوء دي چې کله له کراچۍ تر طورخم د امریکې پوځي مهمات تېرېدل نو دوی ړانده او کاڼه وي.

همدغه علماؤ سوء دي چې کله پاکستان عرب مجاهدین نارینه او ښځینه او ماشومان په امریکې پلورل نو دوی چوپه خوله وو.

همدغه علماء سوء وو چې د لال مسجد ، د جامعه حفصې او د باجوړ د مدرسو په کربلا نه صرف چپه خوله وو بلکې د پردې ترشا یې ظالم او غلام پوځ ته د دې ستر ظلم او جنایت جواز هم ورکړی وو.)

همدغه علماؤ سوء وو چې د لال مسجد، د جامعه حفصې او د باجوړ د مدرسو په کربلا نه صرف چوپه خوله وو بلکې له پردې ترشا يې ظالم او غلام پوځ ته د دې ستر ظلم او جنايت جواز هم ورکړی وو.
همدغه علماؤ سوء دي چې هغه وخت هم چوپه خوله کله چې د پاکستان ظالم او وحشي پوځ د سوات تورسرې بې ستره کولې، خلک يې په بې رحمۍ وژل، همدغه علماؤ سوء دي چې دوی چوپه خوله وو او پوځ په سوات کې د چنګېز تاريخ تکراروه.
همدغه علماؤ سوء دي چې کله قاتل پوځ حق پرسته علماؤ شهيدانوي نو دوی چوپه خوله وي، همدغه علماؤ سوء دي چې کله چنګېزي پوځ د عامو خلکو قتلِ عام کوي د هغوی ناموسونه تر پښو لاندې کوي د هغوی مړي او ژوندي ورکوي دوی چوپه خوله وي. همدغه علماؤ سوء دي چې غوږونه يې کاڼه کړي دي تر څو د عافيه صديقي فريادونه وانه وري.
همدغه علماؤ سوء هغه وخت هم ړانده او کاڼه او ګونګيان وو کله چې د پاکستان ظالم چنګېزي پوځ په وزيرستانونو کربلا جوړه کړې وه. د وزيرستانونو ښکلا يې ووژله د وزيرستانونو په سلګونو مساجد او مدارس يې شهيدان کړل، د وزيرستانو خلک يې بې کوره کړل او قتلِ عام يې پکې وکړ.
همدغه علماؤ سوء دي چې نورو ته د بت شکنۍ فتوا ورکوي او خپله بت پرستي کوي، کله چې په باميانو کې غـټ بـت د طالبانو له لوري ټوټه ټوټه کيږي نـو لـه پاکسـتان څخـه تللي سرکاري ملايان هم ورغلي وو او دغه سرکاري ملايان چې کلـه ببرته پاکسـتان تـه راسـتنيږي نـو ځـانونو سره واړه واړه بتـان خپلو موټرونو کـې راتېـروي، د دې لپـاره چـې د پاکسـتان د موزيمونو سره سره خپلې خېتې هم ډکې کړي، ځايي خلک په دې خبرو غولوي چې دا مونږ نورو مسلمانانو تـه د عـبرت او درس لپــاره وړو،همدغــه علــماؤ ســوء دي چــې د خپلــو استخباراتو د مشرانو په امر د نورو استخبارات ناروا بـولي، د طالبانو په وخت کې د پاکستاني سرکـاري ملايـانو يـو وفـد د طالبانو د استخباراتو مسؤل مولوي وثيق ته راغلي وو او ورته يې ويلي وو چې اسلام کـې تجسس او اسـتخبارات نشـته. مولوي وثيـق لـه دوی سره مخالفت وکـړ، او يـو څـو ورځـې وروسته د مولوي وثيـق د ناستې ځـای او دفـتر د نـامعلومو کسانو له لوري په بمونو الـوزي خوشـبختانه او د القاعـدې د جهادي تنظيم د استخباراتي معلوماتو په مطابق مولوي وثيق له دغې پېښې روغ وځي.
همدغه علماؤ سوء دي چې خپله د هر کافر سره قوي دوستي او اړيکې ساتي د هر کافر چوپړ کې لګۍ ښوروي خو بل ته د دغه کار په کولو سره د کفر خطاب کوي ....
کله چې د طالبانو په منځګړيتوب د هند او پاکستان هغه لانجه

پاتې برخه: صفحه (۲۳)

د اصحابو رضی الله عنهم د ژوند پلوشې: ص (۳۸)

همدغه د اسلام د مدرسې لومړني خورا ښه مصلحت پېژندونکي او حق منونکي مسلمانان دي چې هغو د خپل ژوند او عمـل اسـاس او د ښو او بدو، خير او شر، او د حق او باطـل د تشـخيص او معرفـت معيار او دليل قرآن او نبوي سنت ګرځولي وو، هغو د قرآن او نبوي سنت په رڼا کې د دنيا او آخرت د ښېګڼو او نعمتونو غوښتنه کولـه ، د اختلافاتو او جګړو د منځه وړلو په غرض يې د الهي کتاب قرآن او نبوي سنت حکم او فيصلې ته غاړه ايښودله او له دنيوي او مادي غرضـونو او د جـاه او دبـدبې د مقـامونو او نـورو نفسـاني نـاوړه غوښتنو له منلو او پيروۍ څخه يې ډډه کوله. د اسلامي تـاريخ پـه استناد کله چې الهي پيغمـبر حضرت محمـد صـلی الله عليـه وآلـه وسلم (٦٣) کلنۍ په عمر په مدينه منوره کې د هجرت پـه يوولسـم کال د ربيع الاول د مياشتې په دولسمه د دوشنبې په ورځ اجـل تـه لبيک ووايه او له دنياوي فاني ژوند څخـه يـې سـترګې پټـې شـوې دغه الهي پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم لا خښ شوی نـه وو چـې د مدينې انصارو د بنو سعد په سقيفه کې د حضرت سعد بن عباده په شا او خوا کې راغونډ شول او د خلافت موضوع يې منځته کړله.
هماغه ؤ چې په دغه وخت کښې يو تن حضرت ابـو بکـر صـديق او حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنهم ته راغی او دغو دواړو تـه يې داسې ووېل :که غواړی د هغو د خبرې له غټوالي څخـه مخکې د هغوی د موضوع درک وکړئ نو خپل ځانونه وررسوئ.
هماغه ؤ حضرت عمـر حضرت ابـوبکر تـه وويـل: انطلـق بنـا الـی اخواننا من الانصار حتی ننظر ما هم عليه. مونږ سره زمونږ انصـارو ورونو ته لاړ شه څـو د هغـو د حـال ليدنـه او د موضـوع معلومـات وکړو.
بيا دواړه چې حضرت ابو عبيده عامر بـن الجـراح رضـی الله تعـالی عنه هم د هغو سره ملګری وو د انصارو غونډې ته ورغلل....نور بيا ان شاءالله

د مجاهدینو اخلاص او د الله تعالی مرستې!

ژباړه: طالب علم محمد عمران

زما خوږو ملګرو! په اعمالو کې د نیت ډېر غټ کردار دی، د الله تعالی فرمان دی: أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ. سُورَةُ الزُّمَر : ۳
ژباړه: خبردار اوسه! خالص دین د الله حق دی .
بل ځای فرمایي: وَمَآ أُمِرُوٓا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ. سُورَةُ البَيِّنَة : ۵
ژباړه: او هغو ته پرته له دې بل هېڅ حُکم نه ؤ ورکړ شوی چې د الله بندګي وکړئ.
حضرت عمر ابن الخطاب رضی الله عنه فرمایي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه واورېدل چې فرمایل یې :
بېشکه د عملونو دار و مدار په نیت پورې تړلی دی او هر سړي ته هغه څه رسېږي چې د هغه نیت یې کړی وي .
د اخلاص حقیقت دا دی چې بنده د خپل عمل نه یوازې د الله تعالی د نږدې والي غوښتونکی وي، څکه ابن القیم رحمه الله په مدارج السالکین کې فرمایي چې په عمل کې اخلاص د الله تعالی لورې ته د ګرځېدو او د هغه د نږدې والي د ترلاسه کولو نوم دی، په کوم کې چې ریا او د ځان ښودنې د غوښتلو اسباب شامل نه وي بلکې بنده دې یوازې د الله تعالی نه د اجر او ثواب هیله وکړي، د هغه له عذابه دې وېرار شي او د هغه د رضا کولو غوښتونکی دې وي .
مفهوم: د ښه نېت اهمیت او د ښه نیت مقام یې بیان کړی دی او د نېک عمل نه د دنیا غوښتلو خطره د دنیا په خاطر د عمل قسمونه د ریاکارۍ خطره، ددې قسمونه په عمل د دې اثرات او د ریاکارۍ اسباب او محرکات او ورسره یې د اخلاص د حاصلولو طریقې ذکر کړې دي .
په دې کې هېڅ شک نشته چې اخلاص د نصرت او مرستې، د الله تعالی د عذاب نه د خلاصون، په دنیا او آخرت کې د لوړو درجو سبب دی، د مخلص انسان سره د الله تعالی مینه او بیا د ځمکې او آسمان والاو د مینې نه د سرفرازۍ ذریعه جوړېږي، دا په حقیقت کې یوه رڼا ده کومه چې الله تعالی د خپلو بندګانو نه د چا په زړه کې وغواړي اچوي یې، الله تعالی

فرمایي: وَمَن لَّمْ يَجْعَلِ اللَّهُ لَهُۥ نُورًا فَمَا لَهُۥ مِن نُّورٍ. سُورَةُ النُّور: ۴۰
ژباړه: چا ته چې الله رڼا ونه ښښي، د هغه لپاره بیا هېڅ رڼا نشته.

او د اُخروي عمل په ذریعه د دنیا طلب کمېږي، ولې چې د اُخروي عمل په ذریعه د دنیا غوښتل د توحید د کمال خلاف ده او هغه چې په کم عمل کې ور ګډېږي هغه بربادوي.
زما مؤمنانو او مجاهدینو ورونو! په دې خبره ایمان او یقین ساتل پکار دي چې زمونږ اصلي مرسته کونکی یوازې او یوازې الله وحده لاشریک دی د هغه نه سوا کوم بل مددګار نشته، لکه څنګه چې پخپله د الله کلام د دې شاهدي ورکوي:
وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ. سُورَةُ آلِ عِمرَان : ۱۲٦
ژباړه: برلاسي او مرسته هر څه چې دي، د هغه الله له خوا دي چې ډېر زورور او د حکمت خاوند دی.
زمونږ په عملونو کې د اخلاص کمی دی کوم چې د الله تعالی د ناراضۍ او د هغه د مرستې نه د محرومۍ سبب جوړ شوی دی، زمونږ په جدوجهد او عمل کې چې اخلاص او للهیت وي نو د الهي نصرت راتلل لرې ندي.
وما علینا الا البلاغ.

په دې کې هېڅ شک نشته چې اخلاص د نصرت او مرستې ، د الله تعالی د عذاب نه خلاصون ، په دنیا او آخرت کې د لوړو درجو سبب دی

چنګېزي پوځ، که مجاهدین د پاکستان ریښتیني وارثان؟ : ص(۱٦)

دغه ځمکه خپله من مانې، عیاشې او د الله تعالی نافرمانې او د کفر غلامې وکړي بلکې پاکستان په دې دعوه جوړ شوی وو چې د بریتانیې نه د آزادۍ وروسته به د هندوانو نه بېل یو مثالي فلاحې اسلامي داسې ریاست جوړ شي چې د نورې اسلامي نړۍ لپاره به ناسور نه بلکې ملهم جوړ شي خو کیسه برعکس شوه.
دا اوس زمونږ او ستاسې کار دی چې نوی نسل په دې خبره پوه کړو چې پاکستان د هند د پخوانیو مجاهدینو تسلسل او د پاکستان چنګېزي پوځ د بریتانیې د پوځ تسلسل دی او پاکستان لا آزاد نه دی او د دغې خاورې اصلي وارثان چنګېزي پوځ نه بلکې د پاکستان مجاهدین دي هغه مجاهدین چې د بیت الله محسود، حکیم الله محسود، ولي الرحمن ، قاري شکیل احمد او مولانا فضل الله او د دوی په زرګونو ملګرو په شکل په پاکستاني بمبار او امریکایي ډرونونو کې شهیدان کړای شو او د عمر خالد خراساني ... په شان قهرمانانو او ابطالو پسې یې هم راخیستې ده.
الله دې د ټولو حق پرستو او په اسلام مینو مجاهدینو حفاظت وکړي. آمـــین

په جهاد کې د شعر کردار!

لیکنه : مهاجر زاهد ساپي

شعر د الله رب العزت له لوري په ځينو انسانانو يوه ځانګړې لورينه وي، خو له دې سره سره يې د ژوند په يو بل امتحان کې واچوي هغه دا چې الله رب العزت د دوی په قلم کې د شعر د ليکلو توان پيدا کړی وي خو سم او ناسم کارول يې بيا هغه شعر ليکونکي په امتحان کې واقع کوي

اوسني دور کې مونږ ګورو چې د مسلمانانو په خاوره عموماً کفري ناورين وزرې خپرې کړي، وطنونه اشغال شوي، زمونږ د خويندو او ورونو عزتونه لوټل شوي، بې کوره، بې دره او بې دياره شوي، قرآن ته سپکاوی شوی، زمونږ د خوږ پيغمبر ګستاخي شوې، مدرسې او جوماتونه ړنګ کړی شوي، زمونږ دين اسلام چې يو حق دين دی په باطل نوم ياد کړی شوی او دا لړۍ لا هم روانه ده.

په دې حالاتو کې هغه مسلمانان چې الله تبارک وتعالی هغوی ته استعداد ورکړی دی، د شعر ليکلو په انعام يې نازولي دي، په قلم او ژبه کې يې ورته تاثير ايښی دی که دوی د دغه انعاماتو حق په پوره ډول ادا نه کړي نو يقيناً دوی په يو امتحان کې پرېوتل

زما په اند په دې تېرو شاوخوا دريېو لسيزو کې چې وخت د مسلمانانو په سيمو او په ځانګړې توګه په"افغانستان او پاکستان" کې کوم انقلابونه زېږولي په دې کې به د علماؤ کرامو او مشايخو سربېره ډېر کردار د هغه شاعرانو او ترانه خوانانو هم وي چې ځوانان يې د دين خدمت او جهاد ته هڅولي، د سپېڅلي دين روښانه مسير يې په داسې زرينو او ګلرنګه لفظونو په معاشره کې ياد کړی چې ځوان نسل مو بې لارې نشي، د فاني نړۍ د يو څو شپو او ورځو په خواهشاتو ونه غولېږي او په بدله کې يې خپل حقيقي او نه ختمېدونکی ژوند ونه بايلي

دې زمانې ځينې داسې بې ضميره ليکوالان او شاعران هم زېږولي چې هغوی يو څه دنياوي لالچ او په معاشره کې د فحاشۍ خپرول خپله وظيفه ګرځولې دين ته خدمت کول او يا هم ځوانان د جهاد لور ته ورګرځول خو يوه ډېره لرې خبره ده، ببرته په هغو شاعرانو نيوکې کوي کوم چې د ژوندي او ازاد فکر خاوندان دي د هغوی شعرونه ترانې يو شعار بلي، فکري درس يې ګڼي، داسې يو رنګ ورکوي چې په چاپېريال کې د يو ناسور په نامه خلکو ته معرفي شي او خلک هم ترې دا تاثير واخلي چې ګواکې همدوی جنګ ته لمن وهي او ځوانان هڅوي.

خو دا يې بيا نه وي ياد د نبي عليه السلام په دور کې به چې کله صحابه کرام د جهاد ميدان ته وتل نو حسان ابن ثابت رض، کعب ابن مالک او عبدالله ابن رواحه رضي الله عنهم به جهادي اشعار زمزمه کول،

د کعب ابن مالک په يو شعر باندې نبي صلی الله عليه و سلم وفرمايل چې قسم مې دې په هغه ذات وي د چا په قبضه کې چې زما روح دی چې دغه شعرونه په کفارو باندې د غشو نه ډېر سخت لګېږي....

يو اوږد حديث کې راځي چې يو ځل مشرکينو په اشعارو سره د نبي صلی الله عليه و سلم هجوه وکړه نو رسول الله وفرمايل چې کله يو قوم د نبي مرسته په لاسونو او وسلو سره وکړه نو په ژبه خو ډېر حقدار دي چې مرسته يې وکړي، نو بيا حسان ابن ثابت، کعب ابن مالک او عبد الله ابن رواحه د مشرکينو د دغه اشعارو جواب ورکړو.

له دې حديث شريف نه معلومه شوه چې کله د لاسو او وسلو جهاد فرض شي نو د جهاد باللسان فرضيت د هغې نه هم سخت شي ـ

يو بل حديث کې نبي صلی الله عليه و سلم د مجاهد شعر ته جهاد باللسان يعنې د ژبې جهاد ويلی ـ

حضرت جابر رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: د مؤمنانو د عزتونو دفاع به څوک وکړي نو حضرت کعب رضي الله عنه وويل چې يا رسول الله زه به يې وکړم ـ او حضرت ابن رواحه رضي الله عنه وويل چې زه ـ

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به د حسان ابن ثابت رضي الله عنه لپاره په مسجد کې ممبر کېښوده چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له طرفه مفاخرت وکړي يا د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه مدافعت وکړي

رسول الله وفرمايل چې بېشکه ته ښه شعر ويونکی يې . حضرت حسان وويل چې زه هم ـ رسول الله ورته وويل چې ته د مشرکينو هجوه کوه الله به ستا مرسته په جبريل عليه السلام کوي،

له دې حديث نه يوازې د شعر افضليت ثابت نه شو بلکې شعر د مسلمانانو د عزت د ژغورنې يو ذريعه وګرځول شوه .

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله به د حسان ابن ثابت لپاره په مسجد کې ممبر کېښوده چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم له طرفه مفاخرت وکړي يا د رسول الله نه مدافعت وکړي،

او نبي صلی الله عليه و سلم به دا هم ويل چې الله تعالی د روح القدس يعنې جبريل عليه السلام په واسطه د حسان مرسته کوي تر څو چې هغه د دين مرسته کوي.

حسان ابن ثابت د اسلام هغه شاعر وو چې سره له دې چې دا د انصارو نه وو د قریشو په نسبونو باندې یې علم هم نه درلوده فقط د مهاجرینو صحابه و نه به یې معلومات کول ځکه هغه وخت کې به د شعر و شاعرۍ محور ټول په نسب او پلرونو نیکونو باندې تفاخر کول وو خو د دې باوجود چې هغه ته د قریشو نسبونه سم معلوم هم نه وو په ځان دومره باوري وو چې کله به ترې رسول الله پوښتنه وکړه چې زما د نسب سره به څه کوې یعنې زما خو د هغوی سره نسب یو ځای کېږي زما او د هغوی نسب به څنګه بېلوې نو رسول الله ته به یې وویلې چې زه به تا د هغوی نه داسې وباسم لکه ویښته چې د وړو نه ووځي.

دا چې حسان ابن ثابت په جاهلیت کې هم له لوړ رتبه او مستندو شاعرانو څخه وو د غټو غټو بادشاهانو محفلونو ته به تلو خو ولې هغه ته دغه لقب یعنې "شاعر الرسول" هله ور په برخه شو کله چې هغه د اسلام او رسول الله په مدحه کې خپل شاعري استعداد وکاروه نو مالومه شوه چې یو مسلمان شاعر هغه وخت حقیقي شاعر دی کله چې هغه د وخت فرعون ته د شعر په ژبه ځواب ورکړي او د رسول الله دفاع په نن دور کې داسې وکړو لکه حسان ابن ثابت او نورو صحابوو به چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم نه کوله

د حسان ابن ثابت ځینې شعرونه او د هغې روانه ترجمه:.

فإن ابي و والده و عرضي
لعرض محمد منکم وقاء

بې شکه زما پلار، نیکه او زما عزت زما هر څه د محمد صلی الله و سلم د عزت او ناموس لپاره ډال دي.

وأحسنُ منكَ لم ترَ قطُّ عيني
وَأَجْمَلُ مِنْكَ لَمْ تَلِدِ النّــسَاءُ

زما سترګو ستا نه ښایسته څوک بېخي نه دي لیدلي
او ستا نه ښایسته څوک تر اوسه ښځو نه دي زېږولي

خلقتَ مبرأً منْ كلّ عيبٍ
كأنكَ قدْ خلقتَ كما تشاءُ

ته د هر عـــیب نه داسې پاک پیدا شوی یې
لکه ستا پیدایښت چې ستا په خوښه شوی وي

د پاکستان سرکاري ملایان! د اسلام په نوم د اسلام آباد په خدمت کې : ص (۲۰)

سولییزه حل شوه چې د هندوستان د اختطاف شوې مسافر وړونکې الوتکې په سر پیدا شوې وه، نو هندوستان له طالبانو څخه مننه کوي او د هند حکومت د طالبانو وفد ته دعوت ورکوي تر څو هند ته ورشي، طالبان دعوت قبلوي او غواړي د اسلام آباد له لارې هندوستان ته لاړ شي، د دغه خبر په مطلق خبر پاکستان طالبان دهندوستان دسفر او ویزې اخیستو منع کوي. نو پاکستان د هندوستان د ویزې په نه ورکولو سره دوی منع کوي او د پاکستاني سرکاري ملایانو له لوري ورته دا ویل کیږي چې هندوستان خو زمونږ دښمن دی او مسلمانانو ته نه ښایي چې هندوستان ته لاړ شي.

او حال دا چې پاکستاني سرکاري طاغوتي ملایان پخپله د امریکا او لندن بلکې د ټولې کفري نړۍ چکرې د ځان لپاره روا بولي .

همدغه علماؤ سوء دي چې د پاکستاني مجاهدینو سپېڅلي جهاد ته فساد وایي او پر پاکستاني مجاهدینو د خپل بادار (د پاکستان پوځ) په امر مختلفې ناروا فتواګانې او تهمتونه لګوي.

همدغه علماؤ سوء دي چې د پاکستان ظالم او وحشي پوځ مخې ته ډال کړیدي.

همدغه علماؤ سوء دي چې د پاکستان قاتل او چنګېزي پوځ سره اوږه پر اوږه ولاړ دي او د هغوی هر ظلم او هر کفر ته جواز پیدا کوي او د پوځ په هر ظلم پرده اچوي.

همدغه علماؤ سوء دي چې ټولو مسلمانانو اوباالخصوص افغانانو ته یې د روسانو پر خلاف د کفر او د دغه کفر پر ضد دجهاد فتوا ورکوله خو اوس همدغه سرکاري ونډه خوارو د خپل وحشي اوچنګېزي پوځ په امر افغان حکومت ته دښمن او روسانو ته دوست وایي، نو معلومه شوه اصل فتوا د دغه علماؤ سوء په لاس کې نه بلکې د اسلام آباد د طاغوتي ادارې په لاس کې ده.

هوکې! د پاکستان سرکاري ملایان هغه علماؤ سوء دي چې ټول عمر یې د اسلام په نوم اسلام آباد ته خدمتونه کړیدي.

د شـعرونو برخـه

غـــزل

لکه ســـاده سړی، راغلـــی چې له غــــره یم، ښه یم
هـــمداسې ښه یمه، چې پوی په هـــرڅه نه یم، ښه یم

ستا فرعوني غرور، به بیا هم پسته غـــبږ کې واخــــلم
ته که سخت کاڼی شوې، خو زه شـــکر اوبه یم، ښه یم

رابه شـــي وخت، چې تور پلَو لاندې دې خوب پوره کړم
وخته اوس خوښ یم، چې شوګیر تر لمر خاته یم، ښه یم

ګرد او غبار نه یم، په ســـترګو دې لاســـونه مه ږده
خاورې او شـــګې نه یم، زه پاسته رانجــــه یم، ښه یم

کله نا کـله مـــې زړه ســـپک شي، ورته ښـــه وژاړم
ځیري تصویر مې، د خـــپل سترې ژوندانه یم، ښه یم

چـــې د جنت، د ښـــایستونو ذکـــــر وشـــي وایم
شــــکر زه هم ، د شـــهیدانو له کـــاله یم، ښه یم

ما پسـې ښـــار د هوښــــیارانو ، وخــــته مه لټوه
زه چــــېرته ورک، د کمره سیورې ته، ویده یم، ښه یم

یو چا ویل، چـــــې هېڅ یې نه پېژنم ، ګران دی راته
ما ویل ټوکې مکړه **ســپین کوچـــــی** خو زه یم، ښه یم

سپین کوچی

غـــزل

ستا په نامه د وران کورګي، له کېفه خوند اخـــلم
څه عجیبه ده؟ د زېبرګي له کېفه خوند اخــــلم

چې ستا فُرقت کې یې د تاندو، ساندو ژبې وشوې
ها د خُرما د وچ لرګي له کـــېفه خوند اخــــلم

په یو ګوزار چې دړې، وړې کـــړي بُتان د نفرت
د محـــبت د تبرګي له کـــېفه خوند اخــــــلم

په ګډېدو کې چې بلا اخـــلي له ښـــکلو ښــــکلو
د سپېلنېو د لوګي له کـــېفه خوند اخـــــــلم

چې په یو ګوټ مې له ناسُوت، لاهُوت ته ورسوي
ستا په لاسونو د جامګی له کېفه خوند اخـــلم

چې ستا د یاد سـره یې زیاته شي درزا په یو دم
شم مضطرب د خپل زړګي له کېفه خوند اخـلم

چې نوراني ګوتې مې رُوح په تخـــنولو واخـــلي
زه **سېف مومند** د دې مرګي له کېفه خونداخـلم

اروابناد سېف مومند

شـعرونه

غــزل

ولس خاین شو د رهبر ســـــاتنه نشي کـــېدی
ســفره! نور د همسفر ســـــاتنه نشي کـــېدی

د ورځې څو ډوله پټۍ کـــړمه راتـــــاوې له زړه
بس خو له ما یې مازیـگـر ســـاتنه نشي کـــېدی

چې گـــنو ډېرو او کړو پـــگړو گـــــټلی نه وي
په جــینۍ مخو د سنگر ســـاتنه نشي کـــېدی

مېلمه حجره لرم، پښتون یم، خو پردی وطـــن دی
د شپې چاپې وی نو د سر ســـاتنه نشی کـــېدی

ښار کې د غرب ډېمو کراسي ده خلک لوڅ گرځېږي
ښار کې د ســترگو د نظر ســـاتنه نشي کـــېدی

دا یې درمـل، دا یې سکون، همدا یې روح د ژوندون
بې ستا له یاده د ځیگر ســـاتنه نشي کـــېدی

ورته مـــې وویل! د سر پنــــا دي چم ته دروړم
ویل یې سمه ده مگر، ســـــاتنه نشي کـــېدی

د غـــزل توري د **عـــزام** دي مـــــهاجر له کلي
پکــې د ذوق او د هـــنر ســـــاتنه نشي کـــېدی
عزام ساپي

په زوال دي پښتانه

دا ولې؟ رسېـــدلي تـــر دې حـال دي پښتانه
دا ولـې؟ ورځ تـــر بلــې په زوال دي پښـــتانه

دا ولې؟ د ژوندون لـــه پرمختـگـه پاتې شـــوي
دا ولې؟ د خپل ځان مخ ته دېـوال دي پښـــتانه

دا ولې؟ ســره خـپلو کې یـــو بل ته باتوران دي
دا ولې؟ نه تربـــور لـري، نـــه سیال دي پښتانه

دا ولې؟ تار په تار سره جـلا شـــول له یو بلـــه
دا ولې؟ نـن د نه شتـــون په مـــثال دي پښـتانه

دا ولې؟ بې لـــه ډاره هـــرې خوا ته وژل کېږي
دا ولې؟ هـــر قـــاتل لـــره فئ مـال دي پښتانه

دا ولـــې؟ آخـــر څه اسره یې ومونده **خاروانه!!**
دا ولې؟ نا خپلواک ژوند ته لېـوال دي پښـــتانه
بلال احمد خاروان

شـعرونه

لکه خوشحال

د تـورې او قلم زلمـــی! په شان لکه خوشـــحال
لري پښـــتون ملت غيرتي ځوان لکه خوشـــحال

ننگـــيال د زمانی دی د خوشحال په لار روان دی
په نـنـگ يې ملا تړلې د افـغـان لـکه خوشـــحال

د وخت له مغوليانو د مـظلوم ولس غــــچ اخلي
ولاړ دی داسې ځوک په سپين ميدان لکه خوشحال

د تورې او قلم د حمـــــــاسو مخکـښ اتل دی
تاريخ به يې نوم ليکي قـــــهرمان لکه خوشـحال

هيـبت يې په دښمن لکـه عـــمـر لکه خـالد دی
جـــواده! په رښتيا دی پـهلوان لکه خـوشـــحال

عبدالمجيد جواد

مولوي صيب فضل الله رحمه الله ته!

د درد سرود هم ځواب ورکړ او جذبــات مـــات
جنون شو اوس، چې شول د مينې روايــات مـــات

تيگه چې مـــاته شي نو کـــاڼي شگې زياتې شي لا
گمان مو څه دی؟ دا لوی غر چې شو د سوات مات

پښتنو! ای د تِيهْ[1] دره کې گــړبر يهودو! ويښ شئ
يو مجـذوب شيخ درته په وعظ کړ تورات مـــات

چې د غزني د پېريــــاني ډار له حصــــاره وځي
شي په غلام ضمير کې بت د سومــــــنات[2] مات

دلته خبره که خـــبر هومره وي هم نه چـــلي
دا خو پنجاب دی دلته چلي 'صرف بات'[3] مـــات

ســـتا په راتلو زړه د چــيتر غـوندې ترتر وريږده
خو ستا په تلو زما د اوښکو شو برسـات[4] مـــات

مـدام سـفر د جــنـوني انقـلاب، لــوړې تـــندې
ښه وي لږ خيال د ليلا هم غزل کې شـــات مـات

د صف مـــلگری يې قـيام کې په ســجده پرېوتو
د فراق درد يې کړو په زړه کې **خالّد** مـات مـــات

خـالدّ خـراسـاني

① هغه دره چې بني اسرايل پکې څلوېښت کاله ايسار وو
② په هندوستان کې مشهور بُت چې سلطان محمود غزنوي يې د ماتولو لپاره د غزني نه لښکر بېولی و.
③ يوازې خبرې (اردو - صرف باتيں شاتيں)
④ ژړی

د سیاسي کمېسیون سره مرکه

غازي مجله: د سیاسي کمېسیون مسؤل ښاغلی ابراهیم خلیل الله صاحب! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! ښه راغلاست درته وایو! لومړی خو مننه درځېنې کوو چې مونږ ته مو د خپل قیمتي او مصروف وخت څخه وخت راکړ.

ښاغلیه! په پیل کې که د روانو حالاتو په اړه وضاحت راکړئ.؟
مسؤل : د روانو حالاتو په اړه به یوازې دومره ووایم : چې سیاسي مشکلات تر یو حده پورې د الله رب العزت په مدد او نصرت سره کم دي ، او ځینې مشکلات چې هغه د ځینو جهادي ډلو سره روان وو او دي هغه تر یو حده پورې د سیاسي کمېسیون د مرکز په هدایاتو او د مرکز په رهبرۍ باندې د کامیابۍ لوري ته روان دي خو بیا هم مشکلات که څه کمېږي خو پیدا کېږي هم نو اوس موجوده وخت کې زمونږه مشکلات چې دي هغه د پاکستاني مجاهدینو په سطحه باندې موجود دي او پراته دي چې د اتحاد او یووالي یوه ډانچه برابره شي خو لا د کومې نتیجې لورې ته نه دي تللي د ځینې عناصرو له امله په بعضي ځایونو کې د ځینو جهادي تنظیمونو سره ستونزې شته او بعضي ځایونو کې بس حالات برابر دي نو دغه هغه مجموعي صورت حال دی او باقي د ولسونو په رابطه د الله په مهربانۍ دا د ملګرو تلل راتلل، ځینې سیمو کې ژوند کول او یا داسې نورې کومې ستونزې چې دي نو په هغې کې هم مونږ داسې ۷۰ ــ ۷۵ فیصده پورې برلاسي شوي یو.
او سیاسي صورت حال خو داسې دی چې د حالاتو مطابق وي کله یو لورې ته حالات برابر شي بل لورې ته حالات خراب شي نو داسې حالات یې په دې ډول باندې دي او هغه شروعات یې هم داسې دي اوس هم چې کوم وفد تللی وو یا مونږ پخپله تللي وو هغه هم ډېر د کامیابۍ سره سرته ورسېدل او په بعضي دولتي مسائلو کې مو هم یو څه اندازه پرمختګ کړی دی او لا هم په کې بوخت یو د الله رب العزت په مرسته د امارت اسلامي د مجاهدینو له لارې، د پاکستاني طالبانو له لارې او د ولس له لارې دغه ځینې ستونزې وې چې تقریباً ۹۹ سلنه حل شوي دي.

غازي مجله : تنظیم مو دغه شعبې ته څومره اړتیا لري؟

مسؤل : سیاسي کمېسیون د تنظیم لپاره د ملا د تیر حیثیت لري او هغه بنیادي او اساسي نقطه هم دا ده چې سیاسي کمېسیون او یا یوه سیاسي شعبه په مجموعي توګه د یو تحریک او یا یو تنظیم لپاره بیخي همدغه مثال لري.

غازي مجله : دغه شعبه مو په وسني حالاتو کې څومره فعاله ده او څه ابتکارات له ځانه سره لري؟

مسؤل : د درېیم سوال ځواب به درته دغسې ووایم چې تر یو حده پورې فعاله ده او ضرورتونه نور هم لري او د فعالولو او پرمختګ لپاره څه ناڅه مشکلات نور هم شته او اوس د روانو حالاتو په رابطه ان شاءالله داسې کوم مشکل نشته یعنې د فعالیت چې کوم ضرورتونه دي هغه د الله په مرسته تر یو حده پورې برابر دي چې دا د موجوده حالاتو لپاره تر یو څه حده کافي دي.

غازي مجله : سیاست یا سیاسي کمېسیون د یوه تنظیم په پرمختګ او ارتقاء کې څومره رول لوبوي.؟

مسؤل : سیاسي کمېسیون یا سیاست د یو تنظیم په پرمختګ کې ډېر لوی کردار لري سیاست چې قوي وي نو تنظیم هم ښه روان وي
یو خو مغربي سیاستونه دي او یو اسلامي سیاست دی نو دا چې قوي وي نو د قومونو سره هم پېژندګلوي کېږي او قومونو ته هم د دغه تنظیم او د دغه تحریک هغه ادعا معلومېږي او په نړیواله سطحه هم سیاسي کمېسیون او هم سیاست چې دی دا یو ډېر مهم رول لوبوي د یو تنظیم په پرمختګ کې یعنې دنیا ته دا ښایي چې مونږ په کومه اندازه باندې کار کوو او موخه مو څه ده
سیاسي کمېسیون چې کوم تنظیم کې نه وي نو دا داسې دی لکه په وجود کې چې سترګې نه وي ځکه دا د سترګو مثال لري نو په وجود کې چې سترګې نه وي نو ښکاره خبره ده چې نیمګړی دی ځکه کوم لیدل چې په سترګو سره کېږي هغه بیا په هېڅ قیمت سره نشي کېدلی نو دا هم د یو تنظیم لپاره همدغه د سترګو مثال لري که په عمومي توګه پرې په پوره ډول تفصیل او وضاحت ونه کړو نو دا یې هم پوره دی.

غازي مجله : د شعبې رسمي ارکان مو څو دي؟ او د کار مختصر طريقه کار هم راته واضحه کړئ.؟

مسؤل : دا کمېسيون په څلورو کسانو مشتمل دی کار د سياسي کمېسون دا دی چې په مياشت کې د روټين مطابق يا د عادت او ايجنډې مطابق درې شوراګانې دي چې د هغې لپاره مونږ هر لسم، شلم او دېرشتم تاريخ مقرر کړی دی او د هنګامي حالاتو لپاره کولی شو چې هر وخت يو هنګامي شورا راوغواړو په وخت د ضرورت کې چې بعضې حالات پيدا شي د هغې لپاره هر وخت راغوښتلی شو چې يو شورا او يو مجلس جوړ کړو او طريقه کار هم دا دی چې په لسو ورځو کې چې کوم مشکلات مخې ته راځي هغه هر يو ملګری ځان سره په يو ورقه باندې ليکي بيا چې کله شورا دايره شي نو هر يو ملګری خپل يادانښت شوي مشکلات له ټولو سره شريکوي او د هر يو مجلس لپاره يو نوی امير مقررؤ يعني هر مجلس چې جوړؤ نو د هغې لپاره امير ټاکو او طريقه کار دا دی چې يو ناظم وي هغه د مجلس لپاره امير جوړوي او بيا ملګري رايه ورکوي او د مجلس چې کوم امير وي هغه فيصله ورکوي.

غازي مجله : څرنګه چې تاسو ته تنظيم ډېره اړتيا لري نو ايا څه ځانګړتياوې هم درپه برخه کوي؟

مسؤل : بالکل ډېرې اهمې ځانګړتياوې له ځانه سره لري لکه د نورو تنظيمونو سره د ښو روابطو او د هغو سره د اتفاق او اتحاد لپاره په کې يو مشترک سوچ وي دا د ښه ارتباط ، ښو اخلاقو او ښه جوړجاړې او مرستې دويمه برخه ده چې د ولسونو سره د ښه برخورد او ښه چلند او ښه تعلق لپاره دي . بيا په سياسي کچه هم د ولسونو دود دستور ته درناوی ساتو، ورسره ښه ارتباط ساتو د ملګرو لپاره ، چې په دې سره د ملګرو مشکلات حل وي د دې کمېسيون يوه شعبه چې هغه دولتي کمېسيون دی چې هغه هم د دې کمېسيون سره مربوط دی او څه شعبې داسې نورې هم شته چې هغه د دې کمېسيون سره تړلې دي.
د دولتي کمېسيون کارونه هغه اکثر جدا وي خو بيا هم چې کله جرګه وي يا د دولت سره خبره وي يا د يو بل چا سره نو هغه بيا د سياسي کمېسيون د مسؤل په رهبرۍ کې وي.

غازي مجله : هغه کوم اهم کارونه دي چې ورته لېواله ياست؟

مسؤل : ډېر داسې کارونه دي چې هغې ته مونږ لېوالتيا لرو له ټولو نه اهم کار مو دا دی چې څه ډول پاکستاني تنظيمونه او پاکستاني مجاهدين او پاکستاني مهاجرين يو شي او د اتفاق او اتحاد يو ترتيب جوړ شي يا د يو مسؤل په شکل يا د يو شورا په شکل کې چې هغه رهبري شورا يا عسکري شورا يا مطلب د کاروايانو چې کوم ترتيب وي د هغې د ذمه وارۍ د قبلولو لپاره ، دا هم د وخت يو اهم ضرورت دی او دې ته ډېر زيات لېوال يو چې دا کار سره وشي او دويمه خبره دا ده چې ملګري په داخل کې يعنې په افغانستان کې ښه ژوند تېر کړي د سکون او د ارام او د اطمنان سره خپل دښمن ته فارغه وي او د خپل منځي جنجالونو او او بې ځايه مشکلاتو څخه وژغورل شي.
دا مو په هغه اهمو اهدافو کې دي چې څنګه داسې د حل لاره پيدا کړو چې د هغې سره ملګري د ارام ساه واخلي او خپل دښمن ته وزګار وي او نور سوچونه يې ختم وي دا دوه زمونږ اهم اهداف دي او دا يو اهم ضرورت لرو خو لا تراوسه مونږ په دې دواړو کې کاميابي نه ده موندلې
له بده مرغه په دې کې مونږ له ناکامۍ سره مخ يو مونږ تر ډېره حده په دې کې کوښښونه وکړل خو لا نه يو بريالي شوي.

غازي مجله : تنظيمي ملګري مو د اصولو په مراعت کولو کې څومره مرسته درسره کوي؟

مسؤل : بهرني تنظيمونه تقريباً ټول په ټوله راسره خبرې مني او باقي دا کله کله لانجه خو په يو کور کې هم راځي دا خو لا د زرګونو مجاهدينو او مهاجرينو مشترک لوی لوی تنظيمونه دي نو خامخا په کې څه ناڅه مشکلات راځي قصداً هيڅ څوک هم داسې بې اصولي نه کوي او په غلط فهمۍ سره داسې کېږي چې مشکلات او جنجالونه راځي خو ملګري ټول اصول مني او قصداً يو ملګری هم داسې کومه غلطي نه کوي چې په هغې سره زمونږ تر منځ جنجال جوړ شي او د اصولو په مراعات کولو کې پوره همکاري کوي نو داسې کومه ستونزه يا شکايت په دې باره کې نه لرو.
غازي مجله : ستاسو په آند ستاسو د شعبې مربوط ملګري کومې نېمګړتياوې لري او دغه نېمګړتياوې بايد څنګه محوه شي؟

مسؤل: نېمکړتياوې خو الحمد لله دومره نه لرو البته د تنظيم د نورو ملګرو غوندې زمونږ د شعبې مربوط ملګري هم بعضې مشکلات او ستونزې لري که چېرې دغه ستونزې حل شي نو بيا ملګري خپل مسؤليت ته ښه متوجه کېږي او ښه په فرصت ورته ذهناً او جسماً اماده وي . او خپلې مجبورتياوې او ستونزې يې چې کومې دي هغه رفعه شي لکه د قرضونو بوج د خرچې بوج او د علاج

معالجې بوج د تلو راتلو بوجونه او نيولو پرانيستلو بوجونه نو دې ته ټول تنظيم او ټول ملګري متوجه دي او په دې کې ښکېل دي نو دا مشکلات دي چې دا حل شي بيا ملګري کارونو ته ښه په توجه وي او کارونه ښه مخ په وړاندې سره بوتللی شي خو دا هغه نيمګړتياوې دي چې ټول ملګري ورته ضرورت لري مونږ هم د دې د حل کولو لپاره ډېر کوښښونه وکړل خو لا داسې په منظمه توګه دا مشکلات حل شوي نه دي نو دا چې حل شي ملګري ټول تکړه ملګري دي او غواړي چې تنظيم جماعت او ملګري ښه مخ په وړاندې سره بوځي دا د هر ملګري کوښښ دی خو ددې مشکلاتو د وجې نه اکثر ملګري په پرېشانۍ کې دي.

غازي مجله : مشرتابه ستاسو شعبې ته څومره اهميت ورکوي، او د يادې شعبې اړوند له تاسو سره د هغوی همغږي ، مرسته، څارنه او تعقيب تر کومه حده دی؟

مسؤل : ظاهره خبره ده چې د يوه تنظيم ټولې شعبې د تنظيم د مشرتابه له لوري همغږي کېږي څارنه او تعقيب يې کېږي، او د مشرتابه له لوري ورسره په مختلفو صورتونو کې مرسته هم کېږي. نو زمونږ مشرتابه زمونږ د شعبې اهميت ته په کتلو مونږ سره هر اړخيزه مرسته کوي ، د هغوی هدايات او مشورې له مونږ سره دي.همدا وجه ده چې د دې اهمې شعبې پرمختګ ورځ تر بلې ښه کېږي.

غازي مجله : په آخره کې مونږ ته او ملګرو ته څه پيغام لرئ؟

مسؤل : تاسو نه مو درخواست دا دی چې په هر وخت کې او هر حالات کې له مونږ سره په دې شعبه کې مرسته وکړۍ او ښې مشورې مونږ سره شريکې کړئ او هر ملګری چې د تنظيم د پرمختګ لپاره ښه ښه سوچونه لري نو هغه مونږ سره شريک کړئ او شريکه دا شعبه مخ په وړاندې سره بوځو او تاسو ته ما په اول کې ووېلي چې ددې شعبې مثال د تنظيم لپاره د ملا د تير په شان دی او دنورو تنظيمونو سره، يا په داخل کې د ملګرو د تنظيم کولو لپاره سوچونه وکړل شي، د يو تحريک سره يا د يو جماعت سره د ښو روابطو لپاره تر څو هغوی له مونږ سره مشورې شريکې کړي چې د نورو تنظيمونو سره په دې طريقه او مطلب او د ولسونو سره په دې طريقه خبرې بايد شريکې شي او دغه خوږې مشورې مونږ ته راکړل شي دا ټولو ملګرو ته زمونږ يو پيشنهاد دی چې له مونږ سره د شعبې په پرمختګ کې هر ډول مرسته وکړئ.

د مدثر اقبال کيسه د هغه له خولې: ص (۳۹)

شروع کړل چې زما زړه کې يې کور جوړ کړ. دلته بايد د يوه بل شي يادونه وکړم او هغه دا چې د پاکستان د خلکو او بيا په خاص ډول زمونږ د سيمې د خلکو باور يوازې او يوازې په پوځ دی ، په پوځ دومره باور او اعتماد کوي چې هغومره په خپل ځان هم نه کوي. که څوک له چا سره د واده په خاطر د يوې ښې خپلوۍ په لټه کې وي نو د هغه لپاره په پوځ کې پاتې کېدل اړين وي ، که په يو چا کې هر څومره نيمګړتياوې او غلطيانې وي چې د هغې د وجې نه څوک ورته واده نه ورکوي خو چې په پوځ کې وي نو هېڅ خبره نه ده د غلطيانو او نيمګړتياو سره ورسره خپلوۍ ته زړه ښه کوي او واده ورکوي بس چې هغه په پوځ کې ده دا هر څه شو. دا ته څه وايې لګيا يې!؟ ته اوس پوځي دنده نه کوې؟ ته چې دغه حلاله روزي نه ګټې نو څه به کوې؟ دا خو د ثواب کار دی، بلکې عبادت دی ، په همدې پوځي دنده کې حلال رزق دی ، او تقريبا په نورو ټولو محکمو کې حرامه روزي ده ، چې په هغو کې رشوتونه وي ، همدا يوه پوځي دنده ده چې رشوت پکې نشته. د پلار ځواب مې په همدې ځای ختم شو.

بس ملګرو! دغه سوالونه مې له پلار څخه ځکه وکړل چې زما ځان ترې خلاص شي، خو زه نور هم پکې ګېر شوم. زما شوق وو چې هره ورځ يو نوی ځای او يو نوی کار وګورم، د دنيا تماشې وکړم ، زه تر يوه حده خپل دې شوق کې بريالی هم وم ، همدغسې وختونه تېرېدل ، او په زړه کې مې د نيمګړو ارمانونه او ناخوښۍ سره سره د پوځي دندې لپاره تياری شروع کړ.

تر اوسه مې درسونه او تعليم هم پاتې وو ، له ملګرو سره مې ناسته ولاړه هم روان وو ، خو هر چېرې به مې چې يو پوځي وليده نو يو عجيبه احساس به مې کاوه ، چې زه به څنګه د ده په شان شم؟ دا حالت به ډېره خسته کوونکی وو. بس نور به مې له پلار څخه هېڅ شی هم نه غوښته، د څه شي ضرورت که وو نو خپلې مور ته به مې ويل ، که چېرته به تللم نو له مور څخه به مې اجازه غوښته ، که به کور ته ناوخته راتلم نو مور به مې دفاع کوله ...

په خبرو خبرو کې تر کومه راورسېدم!

بس په لنډو به يې درته ووايم چې زما خبره ونه منل شوه او پوځ کې د داخلېدو لپاره راته صفا او جدي وويل شول، څه ګورو به؟ څنګه به وي پوځي دنده او پوځي! دا مې ووېل او له کوټې څخه د باندې ووتم. نور بيا ان شاءالله....

د مادي او سائنسي نړۍ پرمختګ ، او د انسان ستونزه او ناتواني

لیکنه: ډاکټر عابد آزاد خېل

اوسنۍ نړۍ که هر څومره د مادیاتو او سائنس له پلوه پرمختګ وکړ ، نننی عصر کې که انسانان وتوانېدل چې د ماهیانو په څېر د اوبو منځ کې په غوره توګه لامبو ووهي ، او هم وتوانېدل چې د آسمان لوري ته د مارغانو په څېر الوتنه وکړي او بالآخره وتوانېدل چې د ټرانسپورټي وسائلو او انټرنیټي شبکو په څېر داسې پرمختللي وسایل جوړ کړي چې دا ستره نړۍ د یوه کوچني کلي په څېر جوړه کړي ، خو د سائنس د دومره ارتقاء او پرمختګ سره سره ټوله سائنسي نړۍ له دې عاجزه ده او تر قیامته به عاجزه او ناتوانه وي چې یو انسان خو څه چې د یو مچ او ماشي هومره ژوندی او (حی) شی منځته راوړي.

ښکاره خبره ده ټول انسانان د یوه ژوندي شي د تخلیق نه عاجز دي، د ټول بشریت ناتواني هغه مهال اوج ته رسېږي چې انسانان و نه شي کړای چې د ځان په مثل یو انسان یا حتی د مچ یا ماشي هومره ژوندی وجود جوړ کړي.

په نننی عصر کې د نړۍ ډېر هېوادونه د مادي وسایلو په اړه په ډېرو بحثونو او تحقیقاتو سره تر ټولو غوره مادي وسایل کشف او د انسانانو د لاسرسي وړ یې وګرځول.

همدغه انسانان وتوانېدل چې دغه ستره نړۍ د یوه کوچني کلي په څېر جوړه کړي او له یوې غاړې نه یې بلې غاړې ته په ډېر سهولت سره نقل او حرکت وکړي یو شخص کولی شي چې له بل شخص سره له ډېرو لرو واټنونو څخه په زرګونه کیلو متره واټن سره اړیکه ټینګه کړي او هره شېبه د نړۍ له ټول ډول پېښو څخه په ډېرې اسانۍ سره ځان خبر کړي همدا ډول د اسلام له لیدلوري د بشریت د ارامۍ لپاره وسیله جوړونه ډېر ښه او ارزښتناکه کار دی، ځکه انسان د یو باکرامته انسان په توګه ضرورت لري چې له ډېرو عالي وسایلو سره ژوند وکړي او ډېر حقیقتونه له دغه عالي وسایلو څخه په ګټه اخیستنې سره وپېژني او دا وسایل د انسان پېژندنې، انسان جوړونې، او بالآخره د الله جل جلاله د پېژندنې او د انساني نړۍ لید د معرفت په لاره کې په کار واچوي.

ولې؟ زموږ د نننی عصر ستونزه او ناتواني دا ده چې انسان د ډېرو عصري وسایلو په جوړولو سره پخپله دغه وسایل وسیله نه بولي بلکې همدغه په خپل لاس جوړ شوي وسایل یې هدف ګرځولی او د بت پرستانو په څېر یې ببرته په خپل لاس د جوړ شویو وسایلو په عبادت یې پیل کړی دی.

د انسان ارزښت یې ډېر کم ګڼلی او همدغو وسایلو ته د ځینو انسانانو د رسېدو په خاطر نن موږ د میلیونونو انسانانو د وژلو شاهدان یو.

مثلاً: کله چې په یو هېواد کې تېل شتون لري د دې هېواد خلک د خپلې دغه شتمنۍ لپاره هره ورځ باید خپل ځانونه له لاسه ورکړي ځکه نور شته چې غواړي دغو تېلو ته لاسرسی ولري.

یا ځینې خلک د خپلې خاورې لپاره هره ورځ په لسګونو مړي او ټپیان لري، ځکه د هغوی خاوره د نورو خوښه شوې ده هغوی مجبور دي چې یا خپل کورونه او وطن پرېږدي، او یا هم مړه شي او کورونه او هېواد یې د نورو تر تصرف لاندې راشي

او هرکله چې وغواړي تر څو له خپل حق څخه دفاع وکړي بیا هم دغه ځان خوښوونکي انسانان د خپل ځان په اړه داسې یو قانون ترتیبوي چې هر ظالم او غاصب یې پرمختللی، ازادي غوښتونکی، بشردوست او متمدن بولي، برعکس هر مظلوم چې حق یې خوړل شوی دی، هېواد یې غصب شوی دی، ماشومان یې یتیمان شوي دي، مېرمنې یې کونډې شوې دي لونې او خوېندې یې د انساني لښکرو تر تجاوز لاندې راغلي دي، کورونه یې په بلډوزرونو او یا هم په خطرناکو بمونو الوزول شوي دي هغه ته د وروسته پاتې، تروریست، وحشي، جنایت کار او دا ډول نور نومونه ورکول کېږي

نو ستونزه په کوم ځای کې ده؟ ستونزه په دې کې ده چې وسیله جوړه شوې لیکن انسان نه دی جوړ شوی، نن همدغه انسان د دا ډول انسان په څېر ژوند کولو ته په حیرت (تعجب) کې دی، د همدې ستونزې په اساس د کورنیو بنسټ مخ په نابودۍ دی، د والدینو احترام له منځه ځي، له یو بل سره ژوند هره ورځ زیان مومي، حتّی تر دې چې همدغه انسان په داسې جنایتونو لاس پورې کوي چې حیوانات هم په دغسې جنایت نه مرتکب کېږي.

د دغه ټولو بدمرغیو لپاره حل لاره یوازې او یوازې د رب العلمین ذات رالېږل شوي کتاب ته مراجعه کول دي، په نننی عصر کې هغه مهال چې د هغه خلکو ژوند مقایسه کړو

چې دنيا يې د هدف په توګه ګرځولې ده، په ډاګيزه بڼه وينو چې دا ډول اشخاص سره له دې چې په ژوند کې د عالي منازلو او مرتبو لرونکي شوي دي، د ژوند د ښو وسايلو لرونکي دي، مګر دنيا هغوی دومره ذليل او سپک کړي دي چې د زرګونو انسانانو وژل، د ميليونونو انسانانو زورول، د انسانانو پير او پلور، د مخدره موادو خپرول، د اخلاقي فساد انتشار او د مختلفو ناروغيو خپرېدل د هغوی لومړنۍ لاسته راوړنه ده.

محترمو او عزتمندو مسلمانانو!!! تکليف، غم، خپګان، اندېښنه او مرض د انساني ژوند سره تړلې شيان دي، داسې هېڅ انسان په دنيا کې نه موندل کېږي، چې يو وخت دې له دغه شيانو سره په خپل ژوند کې مخ نه شي، کافر او مسلمان، فاسق او متقي، نر او ښځه ټول يو شان د ژوند له ستونزو سره کله نا کله لاس او ګرېوان کېږي، خو دا د مسلمان ځانګړتيا ده چې د ستونزو په بدل کې الله تعالی د هغه ګناهونه بښي، او په دغه توګه تکليف د هغه لپاره د الهي رحمت لامل کېږي.

خو دا په دې شرط چې مسلمان دغه تکليفونه د خپل رب له اړخه ازماينښت او امتحان وګڼي، په هغې صبر وکړي، د هغې په مقابل کې په ځان کې زغم پيدا کړي، او دغه تکليفونه د هغه د تقوی او عبادت د پياوړتيا لامل شي، نه دا چې دغه تکليفونو ته د الله تعالي د عذاب په نظر وګوري، د هغې له امله د خپل رب څخه ګيله او شکايت وکړي، هغه د خپلې بدبختۍ نښه وبولي، او په مقابل کې يې د الله د عبادت څخه لاس پرېمنځي، او د ناهيلۍ په بحر کې ډوب شي.

د کافر او مسلمان تر منځ توپير دا دی چې کافر هر څه په دنيوي معيارونو تلي، د دنيا ژوند خپله ټوله شتمني ګڼي، د دنيا برياليتوب، خوښي او لاس ته راوړنې د هغه لپاره هر څه وي، او د هغه ټولې هڅې د دنيا پر محور څرخېږي، که په دنيا کې بريالی شي، او دنيا لاس ته ورشي نو چيغې وهي چې (اني فزت برب العالمين)،

په الله سوګند چې زه بريالی شوم، او که چېرې د دنيوي ژوند په کوم پړاو کې د ناکامۍ سره مخ شي، غم، خپګان او تکليف ورته ورسي، نو بيا هم د تباهۍ او هلاکت څخه خپل سر ټکوي.خو د دې په مقابل کې مؤمن مسلمان بيا داسې نه وي، هغه د دنيا ژوند پايله نه بلکې پيل بولي، د هغه په نظر د دنيا ژوند هدف نه بلکې هدف ته د رسېدو وسيله وي، د هغه نظر د دنياوي ژوند څخه هغې خوا ته د آخرت په ژوند وي، هغه دنيا د آخرت کرونده بولي، د هغه په نظر کې دنيا د آخرت د لاس ته راوړلو وسيله وي، هغه د دنيا لاس ته راوړل ټول برياليتوب نه بلکې د برياليتوب يوه برخه بولي، او هغه د دنيا د ناکاميو، ستونزو او تکليفونو څخه د آخرت د برياليتوبونو پوړۍ جوړوي. وما علينا الا البلاغ

مسلمان بايد متواضع وي! : ص (۴۰)

چې تکبر کوي نو الله به هغه ذليله کوي اګر چې هغه ته به ځان لوی ښکاري خو د خلکو نظر کې به د سپي او د خنزير نه هم بدتر وي.

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من تواضع لأخيه المسلم رفعه الله ومن ارتفع عليه وضعه الله.

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي : چا چې د مسلمان ورور لپاره عاجزي وکړه نو الله به يې اوچت کړي او چا چې تکبر وکړو نو الله تعالی به يې ذليل کړي.

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من تواضع لله رفعه الله ومن تكبر وضعه الله

ژباړ: نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي چا چې عاجزي وکړه الله به يې اوچت کړي او چا چې تکبر وکړ الله به يې ښکته کړي.۳۹

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ياعايشة! تواضعي فإن الله يحب المتواضعين ويبغض المتكبرين.

ژباړه : نبي عليه الصلوة والسلام عايشې رضي الله عنها ته وفرمايل: چې عاجزي کوه، الله پاک عاجزي کونکو سره محبت کوي او تکبر کونکي نه خوښوي.

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: تواضعوا وجالسوا المساكين تكونو من كبراءالله و تخرجو من الكبر .

ژباړه : تاسو عاجزي وکړئ او د مسکينانو سره کېنئ نو تاسو به د الله پاک د عزتمندو بندګانو نه شئ او د تکبر نه وځئ [تکبر مه کوئ]

عن ثوبان قال، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : من مات و هو بريء من الكبر والغلول و الدين دخل الجنة.

ژباړه: ثوبان رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي عليه الصلوة والسلام فرمايلي: څوک چې په داسې حال کې مړ شو چې بري وو د تکبر او د مال غنيمت د خيانت او د قرض نه ، نو جنت ته به داخل شي.

جـــهاد باید د څه لـــپاره وشي؟

لیکنه: حامد ندیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم

اما بعد : قال الله عز وجل: قَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِ ۚ فَإِنِ انتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ .سُورَةُ الأنفَال : ۳۹

ژباړه: ای مؤمنانو! لـه دې کـافرانو سره تـر هغـه پـورې وجنګېږئ چې فتنه پاتې نه شي او ټول دین د الله لپاره شي بیا که هغوی له فتنې څخه لاس واخیسته، نو د هغو د عملونو لیدونکی الله دی،

نن سبا ډېر مجاهدین په یو سپېڅلي صف کې ولاړ دي چې هغې ته ویل کېږي سفر د جهاد.

محترمو مجاهدینو جهاد د ډېرو اهدافو لپاره کېدلی شي زه بنده عاجز به له هغې نه یو څو اهداف د الله رب العزت په مرسته او توفیق ذکر کړم ان شاءالله.

۱ .إعلاء کلمة الله.

لکه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي :

من قاتل لتکون کلمة الله هی العلیا فهو فی سبیل الله.

ژباړه: چا چې د دې لپاره جنګ وکړو چې د الله کلمه لوړه شي بس نو هم دا د الله په لار کې جهاد وکړو.

۲ .د الله د قانون د حاکمیت لپاره.

لکه الله تعالی فرمایي: هُوَ الَّذِيَ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ. سُورَةُ التَّوبَة : ۳۳

ژباړه: هماغه الله دی چې خپل پېغمبر یې لـه هـدایت او حـق دین سره لېږلی دی، تر څو چې هغـه پـر ټولـو دینونـو بانـدې برلاسی کړي، که مشرکانو ته دا څومره ناکاره بریښي هم.

۳ .د کفارو ذلالت په جزیې سره.

لکه الله تعالی فرمایي: د اهل کتابو نـه د هغـه خلکـو سره وجنګېږئ چې په الله او په ورځ د آخرت ایمان نه راوړي او څه چې الله او د هغه پیغمبر حرام کړي هغه نـه حراموي او حـق دین خپل دین نه ګرځوي له هغو سره وجنګېږئ تر دې پورې چې په خپل لاس جزیه ورکړي او ذلیل شي.

۴ .د کمزورو مسلمانانو مدد کول.

